# يو لوئے سازش

عائشه صديقه (باچاخان ريسرچ سنټر)

څو ورځې وړاندې ډاکټر عبدالقدير خان د پاکستان د تباهۍ حوالې سره د امريکې د سازشونو ذکر وکړو. دوي په يو ټي وي انټرويو کښې ووې چې د امريکې پالېسي جوړونکو پېش ګوئي کړې ده چې کال 2015 پورې به پاکستان غېر مستحکم کړے شي. د پلان مطابق به صوبه سرحد افغانستان سره يو کړے شي، سندھ او بلوچستان به ځان له شي، پنجاب به يواځې پاتې شي کوم چې د نوموړي سائنسدان د وينا



مطابق د ملک په ۶۰ فيصده حصه قابض دے او ورسره ايټمي وسله هم ده. د ډاکټر قدير مطابق د پنجاب هندوستان او افغانستان سره تعلقات ښۀ دي کله چې پنجاب يواځې پاتې شي نو هغه به په Non Proliferation treaty (NPT) دستخط کولو ته مجبوره کړے شي او دغه رنګ به هغه د خپل کيميائي ټيکنالوجۍ نه دستبرداره شي. د پاکستان غېر مستحکم کېدو په حقله د پاکستان د يو بل سائنسدان ډاکټر ثمر مبارک هم دغه رنګ تاثرات لري.

د ډاکټر عبدالقدير خان دې پېش ګويۍ باندې ځيني خلق يقين نۀ لري خو ډېر خلق پرې يقين کوي. ملک کښې د امن و امان د خراب صورتحال وجه يواځې د حکومت غلطې پاليسۍ نۀ دي بلکې د بېروني سازشونو هم پکښې ډېر لوئے لاس دے د دغې غېر ملکي سازشونو کنټرول کولو د پاره ملکي بېوروکريسي خپل کردار ادا نۀ کړو کوم چې د دوي نااهلي ثابتوي.

پاکستان سره يوه غټه مسئله دا هم ده چې د ملک حکمرانه طبقه په ذاتي مفاداتو حاصلولو

کښې دومره مصروفه ده چې د مسئلو حل کولو دپاره پالېسۍ جوړولو ته وخت نۀ شي ورکولے چې په راتلونکي وخت کښې ملک د داسې مسئلو نه بچ کړي. خو دا کار د يو سائنسدان نۀ دے چې هغه دې سياستدانان د دې خبرې نه اګاه کړي چې کۀ تاسو د فوځ په شا ونۀ درېدئ نو په راتلونکي وخت کښې به تاسو ناکامه شئ.

د پاکستان حکومت او حکمرانه طبقه د بهرني امداد په رحم وکرم چلېږي، کله چې هغه وي نو دوي پالېسۍ جوړوي خو چې کله ئې امداد کم شي يا نۀ وي نو دغه طبقه د ملک د سياسي، اقتصادي او معاشرتي پالېسو جوړولو کښې ناکامه شي او د دغې ناکامۍ له وجې ملک کښې نور انتشار پېدا شي.

داسې ښکاري چې د پاکستان پالېسي جوړونکي د بهرنو سازشونو مقابله کولو کښې ناکامه شوي دي، کوم چې به په راتلونکي وخت کښې ملک کښې نور انتشار هم پېدا کړي. په دې وخت کښې دوي د بهرنو طاقتونو د مدد دپاره په ملک کښې نور تشدد خونبوونکي نۀ شي پېدا کولے.

د ډاکټر عبدالقدير خان د پېش ګويۍ مطابق د پاکستان نوي سياسي set up يعنې د پاکستان د ماتېدو نه پس به اېټمي ټيکنالوجي پنجاب سره پاتې شي او پنجاب به په دې خبره مجبور کړے شي چې هغه په NPT دستخط وکړي. په موجوده وخت کښې پاکستان سره تقريباً 60 نه تر 70 پورې نيوکلئير وارهېډ پاتې شي نو بېن الاقوامي برادري به د دوي نه ويره محسوسوي ځکه چې دومره وړې علاقې سره دومره ډېر نيوکلئير وارهېډ موجود دي. د ډاکټر قدير مطابق کله چې پاکستان مات شي او پنجاب يوائې پاتې شي او د هغۀ مطابق د پنجاب تعلق هندوستان او افغانستان سره ښۀ وي نو ددغه کيميائي وسلې د ساتنې جواز دوي سره نۀ پاتې کېږي.

داسې حالاتو کښې کله چې پنجاب يوائې پاتې شي نو هغۀ سره به خپل قدرتي وسائل لکه اوبۀ، ګېس، تېل او دغه رنګ نور معدنيات هېڅ هم نۀ وي او يوائې دغه کيميائي ټيکنالوجي او فوځ به ورسره وي د کوم په زور به چې دوي په بيلو شوو صوبو دباؤ اچوي چې پنجاب له دغه ځيزونه ورکړي.

کۀ تاريخي حوالې سره د ډاکټر عبدالقدير خان دغه بيان ته وکتے شي نو پته به ولګي چې هغه تاريخ سره هم مماثلت نۀ لري ځکه چې هندوستان سره د خرابو تعلقاتو وجه يوائې اردو او پنجابي ويونکي دي د نورو صوبو او قومونو دې کښې ځۀ ډېر رول نشته. سندهيان (الطاف حسېن) او



پنجابیان د هندوستان سره تجارتي تعلقات ښۀ کول غواړي خو کۀ د **1947** په حالاتو نظر واچولے شي نو دا پته به ولګي چې دغه حالاتو کښې غټ رول د دې دواړو ؤ.

کۀ د پاکستان تاريخ ته وکتے شي نو دا به معلومه شي چې د دې دواړو ګروپونو د پاکستان پالیسي جوړولو کښې ډېر زيات لاس ؤ او دے. د هندوستان ماتېدو نه پس هم دغه دواړه ګروپونه د ټولو نه زيات متاثر شول او دغه د ډاکټر عبدالقدير خان هغه خبره غلطه ثابتوي چې د پنجاب هندوستان او افغانستان سره ښۀ تعلقات وي. په **1990** کښې چې افغانستان کښې دوستانه حکومت جوړولو دپاره کومه پالیسي پاکستان جوړه کړې وه هغې کښې د پاکستان د GHQ ډېر غټ رول ؤ او دغه وخت کښې په GHQ کښې ګڼ شمېر پنجابيان وو.

سول او فوځي بېوروکرېسي خپلو روايتي مخالفينو ته د همدردۍ په نظر نۀ ګوري، هندوستان په دې کوشش کښې دے چې پاکستان تباه کړي او نن سبا خو هغوي د پاکستان تباه کولودپاره امريکې سره هم دوستانه جوړه کړې ده.

ډاکټر عبدالقدير خان خپلې پېش ګويۍ کښې د وفاق نه د صوبو بېلېدو ذکر کړے دے اوس دلته دا سوال پيدا کېږي چې آيا دا سوچ يوائې د يو کس يعنې د ډاکټر عبدالقدير خان دے او کۀ نۀ د ټول اسټېبلشمنټ دے؟ دې پېش ګويۍ په وړو صوبو کښې بداعتمادي پېدا کړه او دوي چې کله هم موقع پېدا کړه وفاق به پرېږدي. داسې قسمه خيالات به ملک کښې حالات نور هم خراب کړي او د وړو صوبو مسائل به د حل کېدو په ځائے نور هم زيات شي.

د دې حقيقت باوجود چې د سندهـ صوبې ډېر جاګيرداران همېشه په حکومت کښې پاتې شوي دي خو بيا هم د دې صوبې عوامو سره امتيازي سلوک کېږي. کۀ ډاکټر قدير خان او اسټېبلشمنټ غور وکړي نو د ملک نيوکلئير ټيکنالوجي بچ کېدے شي خو د هغې دپاره ضروري ده چې کوم ليډران په کرسۍ ناست دي هغوي خپل اختيارات په صحيح توګه استعمال کړي.

دا هم يو حقيقت دے چې بلوچستان کښې انتشار پېدا کولو کښې بهرني لاسونه ملوث دي. د هغې غټه وجه د شروع نه د مرکزي حکومت د وړو صوبو او قبائلي علاقو د خلقو نظر انداز کول دي او اوس هم دغه خلق په صوبو کښې د ترقياتي کارونو نۀ کولو ذمه وار ګڼلے شي. هم دغه رنګ حالات په سندها او سرحد کښې دي.

د دې حقيقت باوجود چې د سندهـ صوبې ډېر جاګيرداران همېشه په حکومت کښې پاتې شوي دي خو بيا هم د دې صوبې عوامو سره امتيازي سلوک کېږي. کۀ ډاکټر قدير خان او اسټېبلشمنټ غور وکړي نو د ملک نيوکلئير ټيکنالوجي بچ کېدے شي خو د هغې دپاره ضروري ده چې کوم ليډران په کرسۍ ناست دي هغوي خپل اختيارات په صحيح توګه استعمال کړي.